# د افغانستان د بشري مرستو خپرونه

۶۹ ګڼه | د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر ۱- ۳۱


## په دغه ګڼه کې


د ژمي په موسم کي له کورنيو سره مرسته لومړی مخ

د لوړې مرګ ژوبلې د کچې دوام دريم مخ

د بشري مرستو د همکارانو کم شمېر څلورم مخ

له بسپنه ورکوونکو سره خبرې: کوريا جمهوريت اووم مخ




په دې وروستيو کې په ټول هېواد کې هوا مخ په سړېدو شوه.
انځور: د يوناما ارشيف

# کورنۍ د ژمي له سختې هوا سره مخامخ کېږي

بي بي حوا چې څلور کاله وړاندې له پاکستان څخه راغلې او د کابل په يوه غيررسمي سيمه کې ژوند کوي داسې وايي: «ژمی راروان دی، هوا د سړېدو په مخ ده نه پوهېږم چې د لرګيو پيسې له کومه کړم.» نوموړې په دې وروستيو کې د خوړو د نړيوال پروګرام (WFP) د ژمنيو مرستو څخه د خوړو د پېرودو په خاطر ۳۳ امريکايي ډالر هم تر لاسه کړي دي.

نوموړې او د هغې مېړه ماشومان خپل ژوند په همدې څېر بشري مرستو او هغو پيسو چې د دې زامن يې د سړکونو پر سر له را ټوليدونکو خځلو څخه تر لاسه کوي، تيروي. بي بي حوا او د هغې کورنۍ د اټکل له مخې له ۷۸۰۰۰ کورنيو څخه يوه ده، کوم چې د را روان ژمي له کبله بشري مرستو ته اړ دي.

**دا ډول کورنۍ د بخاريو، تيلو، کاليو او خوړو له نشت سره مخ دي**

په داسې حال کې چې په ټول هېواد کې د هوا درجه په دې وروستيو کې راټيټه شوې ده، خو د ژمي په خاطر پلانونه لا د جون په مياشت کې نيول شوي وو. د کډوالو او راستنيدونکو چارو وزارت د همغږه شوي کار د يوې برخې په توګه، د بشري مرستو ټولني داسې يوه ستراتيژي جوړه کړې تر څو په زياته توګه اړمن خلکو ته په ژمي کې مرستې ورسوي.

د ارزونو له مخې څه باندې ۳۰۰۰ داخلي بېځايه شويو کورنيو هغو ولسواليو ته پناه وړې کومې چې د سخت ژمني شرايطو درلودونکي دي او څه باندې ۱۵۰۰۰ بېځايه شوې کورنۍ بيا له شديدو ژمني شرايطو سره مخ دي. د اټکل له مخې زيات شمېر اړمن کورنۍ په بدخشان، باميان، دايکندي او کابل ولايتونو کې دي.

د بشري مرستو د ارزونو له مخې، هغه کورنۍ چې د مرستو د تر لاسه کولو لپاره په ګوته شوې دي، ټولې يې ډېر کم عايد لري، اضافي کالي نه لري، زياترو يې بخارۍ يا د سوند توکي نه لري او نږدې نيمايي کورنيو ويلي چې هغوی د ژمي په سړه هوا کې د ژوندي پاته کېدو په خاطر ټول په يوه کوټه کې خوب کوي. همداشان زياترو يې پلان لري تر څو په ورځ کې خپل د خوړو د وختونو شمېر را کم کړي.

**د دريو مياشتو لپاره د ګرمولو په خاطر د سوند توکي د مرستو د پلان په محراق کې دي**

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ (UNHCR)، د بېړنی سرپناه/غيرخوراکي توکو (ES/NFI) د کلستر د مشر او د کډوالو د چارو نړيوال موسسه (IOM) د کلستر د مرستيال په توګه، له دولتي چاراوکو سره يو ځای په ټول هېواد کې د ژمنيو مرستو همغږي کوي.

د ژمي د ګډ پلان په محراق کې د هرې کورنۍ لپاره ۲۰۰ امريکايي ډالر قرار لري، تر څو د کال د دريو سړو مياشتو لپاره د ګرمولو په خاطر د سوند توکي وپيري. د کلستر هغه غړي کوم چې د ګډ پلان برخه دي په هغو کې د اوډينتيسټ پرمختيايي خيريه اداره، کيير انټرنشنل، اسلامي خيريه اداره، د ماشومانو د ساتنې اداره، (Welthungerhilfe) او (Mission East) شامل دي. د کډوالو نړيوالې ادارې (IOM) د ژمنيو مرستو سره د ۱۸۸۰۰۰ امريکايي ډالرو مرسته کړې ده.

(UNHCR) ژمنه کړې تر څو له ۴۰۰۰۰ بېځايه شويو وګړو، راستنيدونکو او د کوربه سيمو له کورنيو سره ۹,۵ ميليونه امريکايي ډالره مرسته وکړي، چې په ټول هېواد کې له خپلو همکارانو سره کار کوي. (UNHCR) او همکاران به يې د يوې بېلې مرستې په مټ له ۱۳۰۰۰ پاکستاني کډوالو کورنيو او د کوربه سيمو له کورنيو سره به ژمي کې د سوند د توکو، کمپلو او کېږديو مرسته وکړي.

## د هوا حالات

سږ کال به د هوا درجه تر منځنۍ کچې پورته وي، که څه هم د جنورۍ په سړه مياشت کې به ښايي تر منفي لسو پورې ورسيږي.

| د جنورۍ په مياشت کې د سانتي ګراد له مخې د هوا د درجې منځنۍ کچه | |
|---|---|
| درواز | -9.3 |
| ميدان ښار | -6.4 |
| باميان | -5 |
| کابل | -2.9 |
| ګيزاب / پاتو | -1 |
| فيض اباد | 0.9 |
| کندوز | 2.8 |
| هرات | 3.7 |
| مزارشريف | 3.7 |
| جلال اباد | 5.7 |
| لشکرګاه | 7.6 |

سرچينه: OCHA

د ۲۰۱۷ کال د نوامبر په ۱۱مه، يوازې يو څه اندازه واوره د افغانستان په شمال ختيځو سيمو کې واوريده، چې د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کال د نوامبر د نيمايي درنو واور برعکس وه.

په افغانستان کې له څه باندې دوو مترو څخه واورې په شمال د بدخشان او نورستان په ولايتونو کې اورې.

## غټ ټکي

- بشرپاله اداري او حکومت پلان لري تر څو په ژمي کې له ۷۸۰۰۰ کورنيو سره مرسته وکړي.
- د ملکي وګړو مرګ ژوبله د روان کال په لومړيو نهو مياشتو کې د ريکارډ کچې ته رسيدلې.
- بايو سنډ فلټرونه اوس په لښکرګاه کې کورنيو ته پاکې د څښاک اوبه ورکوي.
- څه باندې ۱۶۰ د بشري مرستو همکاران په هېواد کې ټول ولايتونه تر بنه پوښښ لاندې راوستي دي.
- په افغانستان کې د پوليو له منځه وړل هېڅکله دومره نه وو نږدې شوی، خو بيا هم لا زيات کار ته اړتيا ده تر څو تر سره شي.
- د کوريا جمهوريت ولې په افغانستان کې مثبت مدغم شويو مرستو سره مرسته کوي.

## د بشري مرستو د پلان بوديجې ته ۶۹ سلنه پيسي ورکړل شوي دي

غوښتل شوې پيسې ۴۰۹,۴ ميليونه ډالر

۲۸۳,۱ ميليونه ډالر تر لاسه شوي دي

http://fts.unocha.org

د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر ۱۱مه

په افغانستان کې د (UNHCR) استازې، فتحه عبدالله وايي: «څه باندې یوه لسیزه کیږي چې (UNHCR) د زیانمنو افغانانو لپاره ژوند ژغورونکي ژمنۍ مرستې همغږه کړې او وړاندې کړې دي. د بسپنو ورکوونکو له پر له پسې مرستو څخه مننه کوو او سږ کال به هم نږدې ۳۰۰۰۰۰ خلک یا ۴۰۰۰۰ کورنۍ د (UNHCR) د ژمنیو هلوځلو له لارې ژمنۍ مرستې تر لاسه کړي، که څه هم اړتیاووې تر دې لا ډېرې دي.»

د افغانستان لپاره د بشري مرستو همغږۍ کوونکي (HC)، توبي لنزر، په مهمو اړوند وزارتونو کې له لوړوپوړو افغان چارواکو، اروپايي ټولنې او نورو بسپنو ورکوونکو سره په ګډه کار کوي تر څو د ټولو ۷۸۰۰۰ کورنیو سره د مرستې په خاطر پاتې ۷,۶ میلیونه ډالر تشه ډکه کړي.

*د افغانستان لپاره د بشري مرستو همغږۍ کوونکي (HC)، توبي لنزر، په مهمو اړوند وزارتونو کې له لوړوپوړو افغان چارواکو، اروپايي ټولنې او نورو بسپنو ورکوونکو سره په ګډه کار کوي تر څو د ټولو ۷۸۰۰۰ کورنیو سره د مرستې وکړي.*

**ژمني کالي، پلاستیکي ترپالونه، کمپلې، د سینه بغل د درملو کڅوړه او خواړه**

د رسمي ګډ ژمني پلان سربیره، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (UNICEF) پلان لري تر څو له ۲۶۳۰۰ کورنیو سره د ۳ میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت د ژمني کالیو، کمپلو او پلاستیکي ترپالونو مرسته وکړي. د روغتیا د نړیوالې ادارې (WHO) له لارې د روغتیا کلستر په ټول هېواد کې د سینه بغل د درملو د کڅوړو مرسته کوي، تر څو روغتونونه د سینه بغل او تنفسي زیاتیدونکو ناروغیو په وړاندې چمتووالی ولري، کوم چې زیاتره قربانیان یې ماشومان دي.

د خوړو نړیواله اداره (WFP) پلان لري تر څو د کابل په غیررسمي مېشت سیمو کې لکه د بي بي حوا په څېر له ۹۵۰۰ کورنیو سره د نغدو پیسو مرسته وکړي تر څو د ژمي په درېو میاشتو کې د ځان لپاره خواړه وپیري او همداشان به د هېواد په نورو سیمو کې له ۵۷۰۰۰ کورنیو سره د خوراکي توکو یا نغدو پیسو مرسته وکړي. په بېړنیو حالاتو کې د زده کړې کاري ډله پر دې کار کوي تر څو د هېواد په اتو ولایتونو کې د ښوونځیو د ګرمولو لپاره د سوند توکي برابر کړي.

## د ملکي وګړو مرګ ژوبله نږدې ده چې ریکارډ ټینګ کړي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (UNAMA) د اکتوبر په نیمايي کې په وسله والو جګړو کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه خپل ربعوار ریوټ خپور کړ. د جنوري له میاشتې بیا د سپتمبر تر پایه پورې، (UNAMA) د ټولټال ۸۰۱۹ ملکي وګړو مرګ ژوبله ثبت کړې، چې له هغې شمېرې څخه ۲۶۴۰ یې وژل شوي او ۵۳۷۹ یې ټپیان شوي دي. دا شمېره ښيي چې د ۲۰۱۶ کال د ورته دورې په پرتله په عمومي توګه د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې شپږ سلنه کمښت راغلی دی. خو له دې سره بیا هم، د روان کال په لومړیو درېو میاشتو کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې شمېره د تیرو درېو کلونو په پرتله ډېره لوړې کچې ته رسیدلې او د ۶۹۲۰ مرګ ژوبلې له منځنۍ کچې څخه لړ کښته راغلی *(ګراف ووینئ)*.




د ۲۰۰۹ کال د جنوري نه د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر تر میاشت پورې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړه معلومات. سرچینه: یوناما

په ریوټ کې د جګړې د دواړو غاړو دې غفلت ته اشاره شوې چې باید ملکي وګړو ته د ځور رسیدنې په خاطر کافي تدابیر ونیسي، ځکه چې په وژل شویو او ټپیانو کې یې زیات شمېر ښځې او ماشومان شته. (UNAMA) د ۲۰۱۷ کال په لومړیو درېو میاشتو کې د ۱۰۰۷ ښځو د مرګ ژوبلې خبر ورکړی، چې په هغو کې ۲۹۸ یې وژل شوي دي، چې د تیر کال د همدې دورې په پرتله ۱۳ سلنه زیاتوالی ښيي.

## وړې وسله والې نښتې په جګړو واوښتې چې ورسره د ټپیانو شمېر هم زیات شو

هغه د وړو وسله والو نښتې نښانې چې یو وخت دومره هم د پام وړ نه وې اوس په جګړه باندې اوښتې او په ۲۰۱۷ کال کې د ملګرو ملتونو ستراتیژیکي کتنې هم افغانستان له جګړو څخه د راوتلو هېوادونو له کتاره بیرته په جګړه کې د ښکېل هېواد په توګه ډلبندي کړ.

په منځنۍ کچه، د ۲۰۱۷ کال د جولای له میاشتې بیا تر سپتمبر پورې، هره ورځ ۸۰ وسله والې نښتې ثبت شوې دي – چې دا شمېره په تیرو شپږو کلونو کې تر ټولو لویه شمېره ده. د کال په لومړیو نهو میاشتو کې، د ټولټال ۱۹۲۰۰ وسله والو نښتو خبر ورکړل شوی، چې د ۲۰۰۸ کال په پرتله پنځه ځله زیاتوالی ښيي.

د جګړو شدت او ورسره په کابل کې د مذهبي سرغړونو زیاتوالی، د جګړې د دواړو غاړو لورو ته د زیات شمېر ټپیانو سبب ګرځیدلی دی.

که څه هم سږ کال، د روغتیا همکارانو د ټپیانو څه باندې ۶۹۰۰۰ موارد ریوټ ورکړی و – چې د ۲۰۱۶ کال د ورته دورې په پرتله یکې ۲۱ سلنه زیاتوالی راغلی.




د ۲۰۰۸ کال له جنوري د ۲۰۱۷ کال تر اکتوبر میاشت پورې وسله والې نښتې. سرچینه: OCHA



د نوامبر په لومړیو کې، یوناما د عبادت پر ځایونو باندې د بریدونو په اړه یو ځانګړی ریوټ خپور کړ.

د ۲۰۱۶ کال د جنوري له لومړۍ نېټې، په ټول هېواد کې پر جوماتونو، زیارتونو او د عبادت پر نورو ځایونو باندې ټولټال ۵۱ بریدونه شوي دي او څه باندې ۲۴۰ کسان یې وژلي او نږدې ۵۰۰ یې ټپیان کړي دي. د دې بریدونو زیاتره قربانیان شیعه ګان وو. پر شیعه عبادت کوونکو باندې بریدونه تیر کال پیل شول چې په ۲۱۰۶ کال کې پرې څلور بریدونه او پر ۲۰۱۷ کال کې پرې اته بریدونه وشول.

همداشان، یوناما د مذهبي کسانو د وژنلو، تښتوولو او ګواښولو په اړه هم اسناد تر لاسه کړي دي: د ۲۰۱۶ کال د جنوري له لومړۍ نېټې را وروسته، د مذهبي کسانو ۲۷ هدفي وژنې ثبت شوې دي، چې ۲۸ یې وژل شوي او ۲۳ نور یې ټپیان شوي دي. دا بریدونه زیاتره په ۲۰۱۷ کال کې رامنځته شوي دي.

# په لښکرګاه ښار کې د کورنیو لپاره د پاکو اوبو رسول

*د اکشن کونټرې لا فایم (ACF) انجو د همدې مقالې په لیکلو کې مرسته کړې ده*

الله نوري چې د هلمند ولایت د لښکرګاه ښار په څنډو کې ژوند کوي وايي: «زموږ زیاتره لویانو د نس دردونه، نس ناستې او د پښتورګو ستونزې درلودې. دوه ماشومان مو له شدید نس ناستې څخه ډېر ځوریدل، وزنونه یې بایللي وو او د بدن اوبه یې وچې شوې وې، چې د ډاکټرانو په خبره دا ټول د ککړو اوبو له لاسه وو.»

یو بل ته اوسیدونکی، حاجي غلام بیا ویل: «موږ د خپلو ماشومانو په تداوي باندې هر وار زیاتې پیسې ولګولې. هغوی مې لښکرګاه او کندهار کلینیکونه ته یوړل خو هلته به ډاکټرانو ویل چې پاکې اوبه ورکړئ. وروسته مو بوتلي پاکې اوبه ورته اخیستلې خو د اقتصادي ستونزو له کبله مو یوازې یو څو ورځې دا کار وکړ. په پای کې مې یو زوی مړ شو.»

« وروسته مو بوتلي پاکې اوبه ورته اخیستلې خو د اقتصادي ستونزو له کبله مو یوازې یو څو ورځې دا کار وکړ. په پای کې مې یو زوی مړ شو.»

د (WASH) د کلسټر د معلوماتو له مخې، په ۲۰۱۶ کال کې، په اټکلیزه توګه ۲،۳ میلیونه وګړو اوبو، حفظ الصحې او روغتیا (WASH) په برخو کې بشري مرستو ته اړتیا درلوده. څه باندې دوه پر دریمه برخه افغانان خوندي حفظ الصحه اسانتیاوو ته لاسرسی نه لري او ۴۵ سلنه یې د څښاک اوبه له ناخوندي ځایونو څخه تر لاسه کوي. که چیرته د نس ناستې ناروغۍ درملنه ونشي، نو کولای شي تنکي ځوانان د خوارځواکۍ او نس ناستې په بدمرغه کړۍ کې را ګیر او د حادې خوارځواکۍ سبب یې وګرځي.

### د سیمې خلکو د همدې ویجاړو وهل شویو لاسي بمبو د جوړولو نه تخصص درلود نه یې پیسې

په ۲۰۱۶ کال کې، (ACF) په لښکرګاه او د هغه په نیمه ښاري شاوخوا سیمو کې د اوبو او روغتیاپالنې په اړه یوه بېړنۍ مداخله وکړه. دغه سیمه په تیر وخت کې د جګړو او د خلکو د بېځایه کېدو له کبله ډېره سخته زیانمن شوې وه او د عامه خدماتو او اقتصادي پرمختګ د نشتوالي څخه سخت له ستونزو سره مخ وه. دغه پروژه په پلان کې لري تر څو څه باندې ۳۰۰۰ کورنیو ته له CHF – افغانستان څخه یوازې په څه کم ۴۸۸۰۰۰ امریکایي ډالرو ټولو ته رسیدګي وکړي.

« لومړی موږ اوبه له سرخلاصه څاه ګانو څخه راوړو او بیا یې په فلټر کې اچوو. څو ساعته وروسته هغه اوبه د معدني اوبو په څیر خوند او رنګ پیدا کوي.»

د حاجي غلام په کلي کې، کورنۍ خپلې د اړتیا وړ اوبه له خلاصو څاه ګانو څخه را اخلي او یا هم ښځې، نجونې او هلکان یې له سیند څخه راوړي. د ولایتي چارواکو له خوا وهل شوي لاسي بمبه له تیرو دوو کلونو راهیسې خرابه شوې او د کلي خلک هم هغه تخصص او هومره پیسې نه لري چې هغه بیرته پرې ورغوي.

له سیمه ایزو مشرانو سره تر سلامشورو وروسته، (ACF) ژمنه وکړه تر څو دا وهل شوي لاسي بمبه بیرته ورغوي او د سیمې پنځه غړي د هغې د بیارغونې په برخه کې وروزي. د (ACF) کارکوونکو هلته په سیمه کې خلکو ته د روغتیاپالنې او په صابون باندې د لاسونو د مینځلو په اړه تبلیغ وکړ. حاجي غلام په دې اړه وايي: «له یوې میاشتې را پدیخوا، زموږ په ټوله کورنۍ کې هیڅوک نه دي ناروغ شوي.»

### نوښتګرانه د چغلو او شګو فلټرونه پرته له بریښنا د څښاک لپاره اوبه صافوي

د الله نوري په ګاونډ کې هیڅ کومه لاسي بمبه نه وه چې باید رغول شوې وای. د دې پر ځای، د هغه کورنۍ یو له هغو ۹۰ کورنیو څخه وه چې په اصطلاح د بایو سنډ (Bio-sand) فلټر یې تر لاسه کړی دی. د دې بایلر ډوله فلټر یوه برخه په چنل شوي او پاکو مینځل شویو چغلو او شګو سره ډک وي په کوم کې چې د میکروارګانیزمونو یوه بیولوژیکي لایه رامنځته کېږي *(باکس ته وګورئ)*.



له کومه وخته چې الله نوري په خپل کلي کې د ACF له خوا د بایو سنډ فلټر تر لاسه کړی دی او د هغه په مټ د څښاک اوبه تر لاسه کوي، نو هلته هیڅوک نه دي ناروغ شوي.
انځور: د ACF عبدالهادي شیرازد

الله نور په دې اړه داسې وايي: «له هغې ورځې چې موږ دا فلټر تر لاسه کړی دی، نو تل مو پاکې او صحي اوبه څښلې دي. لومړی موږ اوبه له سرخلاصه څاه ګانو څخه راوړو او بیا یې په فلټر کې اچوو. څو ساعته وروسته هغه اوبه د معدني اوبو په څیر خوند او رنګ پیدا کوي. په دې میتود باندې پخوا زموږ په کلي کې هیڅوک نه خبر و نه پرې پوهیده خو اوس د هغه د ښه کار له کبله ټول خلک حیران دي. دا فلټر د همدې چاپیریال لپاره ډېر مناسب دی. همداشان دا میتود بریښنا ته هم اړتیا نه لري او کارول یې هم ډېر اسانه دی.»

د بایو سنډ د فلټر نظریه په ۹۰یمه لسیزه کې په کاناډا کې مخته یوړل شوه او بیا د CAWST د غیر انتفاعي موسسې له خوا وده ورکړل شوه.

د همدې موسسې د معلوماتو له مخې دا سیستم په څه باندې ۷۰ هېوادونو کې کارول کېږي. دغه د فلټر کولو بایلر له کانکریټ یا پلاستیک څخه جوړیږي او بیا د ځانګړو ټاکل شویو چغل او شګو نه یې یوه لایه ډکیږي.

د همدې فلټر یوه نه ښکاریدونکې بیولوژیکي لایه یوه اصلي برخه ده چې میکروبونه ایسته کوي. دا لایه له کارولو څخه یوه میاشت وروسته رامنځته کېږي. چې د CAWST د معلوماتو له مخې، د همدې فلټر نه راوتونکي اوبه (۶۹،۹ سلنه) له باکټریاوو، (۹۹،۹ سلنه) له ویروسونو، (۹۹،۹ سلنه) له پروټوزوا او (۹۵ سلنه) له خړپړوالي څخه پاکې وي.

Common
Humanitarian
Fund

# د ځو همکارانو په مټ د ټول هېواد تر پوښښ لاندې راوستل

د OCHA له خوا د ورووستي ربعوار خپور شوي ریوټ له مخې په افغانستان کې د فعالو موجوده بشري همکارانو شمېر د سپټمبر تر پایه پورې ۱۶۳ موسسو ته را ټیټ شوی دی، چې دا شمېره درې میاشتې پخوا ۱۷۰ موسسې وې. په دغو همکارانو کې ۸۰ داخلي انجوګانې، ۷۳ نړیوالې انجوګانې او ۱۰ د ملګرو ملتونو اداري، وجهي صندوقونه یا پروګرامونه شامل دي. زیاتره دا موسسات د خوندیتوب په برخه کې کار کوي (۹۲)، له هغه را وروسته د خوړو د خوندیتوب (۶۳)، روغتیا (۶۱)، تغذیې (۴۳)، بیړنی سرپناه او غیر خوراکي توکو (۴۳) او اوبو، روغتیاپالنې او حفظ الصحې (۴۱).

*په دغو همکارانو کې ۸۰ داخلي انجوګانې، ۷۳ نړیوالې انجوګانې او ۱۰ د ملګرو ملتونو اداري، وجهي صندوقونه یا پروګرامونه شامل دي.*

د تیرو کلونو په پرتله، د همکارانو عمومي شمېره د درې کاله وړاندې شمېرې په وړاندې چې هلته ۲۱۵ همکاران وو، اوس خورا راښکته شوې ده. همداشان دغه اوسنۍ شمېره د همکارانو د ۲۰۱۳ کال له پیل راهیسې د بشري همکارانو له منځنۍ ۱۸۲ شمېرې نه هم ټیټ دی. دا وضعیت د ۲۰۱۵ کال له نیمایي راوروسته پیدا شوی او لا اوس هم جریان لري.




له ۲۰۱۳ کال راوروسته د فعال شتون لرونکي همکاران. سرچینه: OCHA

بشري همکاران هڅه کوي چې په بنه توګه سره ټول هېواد تر پوښښ لاندې راولي

*په فراه او نیمروز ولایتونو کې یوازې دوه موسسې د ولایت له مرکز څخه بهر فعالیت لري، خو په روزګان کې بیا یوه موسسه د ولایت له مرکز څخه بهر فعالیت لري.*

د بشري همکارانو د شمېر د کمښت با وجود، هغوی بیا هم ټول هېواد تر خپل بشپړ پوښښ لاندې لري. د بشري موسسو موجودیت د بشري وضعیت شدت ته په کتو سره بیا هم د لوړو اړتیاوو لرونکو ولایتونو لکه کابل، کندهار، کندوز، ننګرهار او ځلورو نورو ولایتونو کې د پام وړ او بنه پوښښ بنیي.

د څه باندې ۲۱۰ همکارانو شمېر ته په کتو سره زیانمن شویو سیمو ته د هغوی لاسرسی او د اړتیا په صورت کې هلته د بشري مرستو د رسولو وړتیا دا ښیي چې همدا همکاران کولای شي د هېواد ټولو ۳۹۹ ولسوالیو ته رسیدنه وکړای شي. د افغانستان- د ګډ بشري وجهي صندوق (CHF-Afghanistan) د پروژو همکاران د هېواد په هر ولایت کې شته چې د اړتیا د رامنځته کېدو په صورت کې د مرستو رسولو له زیاتوالې سره مرسته کوي *(د ممدې بولیتین په پای کې مالي تازه ریوټ ووینئ).* د CHF همکاران اوسمهال په ۴۵ سخت لاسرسي وړ او غفلت شویو ولسوالیو کې پروژې پر مخ وړي، چې زیاتره یې د وسله والو ډلو تر کنټرول او یا هم د جګړو ځګرونه دي.

د نیمروز، فراه او روزګان ولایتونو له مرکزونو څخه بهر وړتیاووې ډېرې محدودې دي

*د بشري همکارانو په شمېر کې د کمښت باوجود، هغوی د په ټول هېواد کې بنه پراخ پوښښ لري. هغوی د هېواد په ۳۹۹ ولسوالیو کې کار کولای شي.*

زیاتره موسسات نه یوازې دا چې د ولایتونو په مرکزونو کې دفترونه لري، بلکې د ولایت له مرکز څخه بهر هم خپل دفترونه لري: په کابل ښار کې له ۳۵ موسساتو څخه چې د کابل په ښار کې عملیاتي حضور لري څه باندې نیم یې د پلازمینې نه بهر هم فعال دي او په ننګرهار کې بیا له ۵۷ فعالو موسسو څخه نږدې ۴۸ یې د جلال اباد له ښار څخه بهر عملیاتي حضور لري.

که څه هم د نیمروز په ولایت کې محدوده وړتیا شته، چیرې چې یوازې دوه انجوګانې د ولایت له مرکز څخه بهر عملیاتي حضور لري، یوه یې د (WASH) په برخه کې او بله یې د خوندیتوب په برخه کې فعالیت لري. د فراه په ولایت کې هم یوازې دوه همکاران له مرکز څخه بهر عملیاتي حضور لري، چې یوه د ماین پاکولو په برخه کې او بله یې د روغتیایي خدماتو د تطبیق په برخه کې فعالیت لري. د روزګان په ولایت کې، هغه ولایت چې د ریوټونو له مخې د لوړ شمېر بېځایه شویو خلکو کوربه دی، یوازې یوه موسسه شتون لري، او هغه انجو چې د عامې روغتیا وزارت لپاره روغتیايي خدمات تطبیقوي، هغه د ترینکوټ ښار نه بهر شتون لري.

د څوک چیرې او څه کوي (3W) یوه تعاملي نسخه ، چې په دې اړه په ټول افغانستان کې د عملیاتي شتون او وړتیا په اړه معلومات په لاندې ویب پاڼه کې تر لاسه کېدای شي:
https://goo.gl/xYmtQV




په افغانستان کې د بشري همکارانو عملیاتي شتون (کیڼه خوا) او عملیاتي وړتیا (ښی خوا).

# د (ICRC) فعالیتونه هم را کم شول

په تیرو څو میاشتو کې پر  (ICRC) باندې د یو لړ بریدونو په تر سره کېدو له درېو لسیزو پر له پسې شتون وروسته اړ شو تر څو خپل فعالیتونه را کم کړي *(د ۲۰۱۷ کال د سپتمبر د میاشتې ۶۸ ګڼه د بشري مرستو بولټين وګورئ)*. دا موسسه به په فاریاب او کندوز ولایتونو کې خپل دوه دفترونه وتړي او د هېواد په نورو ولایتونو کې به خپل فعالیتونه را کم کړي.

وروسته له هغه چې په تیر سپتمبر میاشت کې یوه ناروغ د بلخ د مزارشریف د (ICRC) په ارتوپیدیک مرکز کې یو فزیوتراپیست په ډزو سره ووژه، بیا تر یوې میاشتې پورې هغه مرکز تړلی و او وروسته یې بیرته خپل فعالیتونه پیل کړل او اوس مهال بیرته په پوره وړتیا سره هره ورځ د ۱۰۰ بستریزه ناروغانو او ۱۵۰ معالجه کېدونکو ناروغانو په خدمت کې ده.

د (ICRC) د معلوماتو له مخې، دا اداره اوس مهال د دې شونتیا په لټه کې ده تر څو دا مرکز یوې بااعتباره ادارې ته وسپاري، هغه که حکومتي وي یا خصوصي، چې کېدای شي دا پروسه د دې لپاره څو میاشتې وخت ونیسي، تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې ایا هغوی په رښتیا هم ناروغانو ته د ورته کچې خدمات وړاندې کولای شي او که نه.

د روغتیا د کلسټر همغږی کوونکی، ډیویډ لای وایي: «چیرته چې تشه را ښکاره کېږي، نو د روغتیا کلسټر له خپلو همکارانو سره کار کوي تر څو د بیا پیاوړتیا، فزیوتراپي او رواني ملاتړ برخو ته لاسرسی زیوالی وموميي او ډاډ تر لاسه کړي چې ایا په زیاته اندازه زیانمن شوي وګړي هغه خدمات چې دوی ورته اړتیا لري، تر لاسه کړي.»

د (ICRC) د فعالیتونو او مرکزونو په راکمېدو سره به هرومرو د ځایي او بېځایه شویو خلکو په ګډون په کلیوالي سیمو کې د بېړنیو مرستو د وړاندې کولو په مهال، تشه رامنځته شي. په ۲۰۱۶ کال کې، څه باندې ۱۵۰۰۰۰ بېځایه شویو وګړو د (ICRC) له خوا مرستې تر لاسه کړې، چې د افغاني سرې میاشتې له عالي ټولنې (ARCS) سره یې یو ځای کار کاوه او زیاتره وختونه یې د یوازیني بشري همکار په توګه اړمنو ټولنو ته لاسرسی درلود.



# بشري مرستو ته لاسرسی او پر مرستندویه کارکوونکو باندې تر سره شوي بریدونه

د اکتوبر په میاشت کې، د لاسرسي لرلو د محدودیتونو په اړه ۴۷ پیښې ثبت شوې وې، چې د تیرې میاشتې په پرتله د ۱۵ پیښو زیاتوالی راغلی دی او په دې سره په ۲۰۱۷ کال کې د دا شان پیښو ټولټال شمېر ۳۰۵ ته لوړ شوی دی. له دې ټولو پیښو څخه، زیاتره یې د بشري کارکوونکو، شتمنیو او مرکزونو پر وړاندې له زورزیاتي څخه کار اخیستل و او له هغه وروسته بشري مرستو ته د اړمنو خلکو د لاسرسي لرلو محدودیت یا مخنیوی و.

د اکتوبر په میاشت کې د بشري مرستو دوه کارکوونکي مړه او دوه نور یې ټپیان شول، چې په دې سره د وژل شویو خیریه مرستندویه کسانو شمېر ۱۷ او د ټپیانو یې ۱۵ ته ورسید. د اکتوبر په میاشت کې هېڅ خیریه مرستندویه کس نه دی تښتول شوی، خو په روان کال کې ۴۳ خیریه کارکوونکي تښتول شوي دي.

د اکتوبر په میاشت کې د روغتیایي کارکوونکو یا روغتیایي مرکزونو اړوند لس امنیتي پیښې رامنځته شوې دي، چې د جنوري له میاشتې را پدیخوا د دا شان پیښو ټولټال شمېر ۱۱۳ ته رسیدلی *(نقشه ووینئ)*.

**په ۲۰۱۷ کال کې له جنوري تر سپټمبر پورې تر سره شوې بریدونه**

۳۰۵
بریدونه

۱۷
خیریه کارکوونکي وژل شوي
(د نومبر تر ۱ نېټې)

۱۵
خیریه کارکوونکي ټپیان شوي

۴۳
خیریه کارکوونکي تښتول شوي

۱۱۳
بریدونه پر روغتیایي مرکزونو او کارکوونکو باندې شوي دي




په ۲۰۱۷ کال کې پر روغتیایي مرکزونو او کارکوونکو باندې شوي بریدونه. سرچینه: د OCHA د روغتیا کلسټر

# پر هر ماشوم باندې د ګوزڼ د واکسین تطبیقول

*د همدې مقالې په لیکلو کې د روغتیا نړیوالې ادارې (WHO) مرسته کړې ده*

د نومبر د میاشتې تر لومړیو ورځو پورې، په روان کال کې د ګوزڼ د واکسین کمپاینونو ټولټال ۱۵ میلیونه ماشومان تر خپل هدف لاندې راوستل. د دې ماشومانو زیاتره یې واکسین شول، خو نه ټول: د بېلګې په توګه، د سپټمبر د میاشتې په درشل کې، شاوخوا ۱۹۰۰۰۰ نجوني او هلکان واکسین نه شول. د دې کار علت هم د هېواد په شمالي ولایتونو کې روانې جګړې او په ختیځو او سویلي ولایتونو کې د وسله والو مخالفینو له خوا د ورتګ ممنوعیت وو.

په افغانستان کې د پولیو یا ګوزڼ د پروګرام مشره، هیمنت شکلا وایي: «لاسرسی لرل زموږ لپاره تر ټولو لویه ستونزه ده. د دې لپاره چې افغانستان ته د ګوزڼ د راتلو مخه ونیسو، نو اړ یو چې هر ماشوم هر ځل واکسین کړو، پرته له دې چې هغوی په کومه سیمه کې ژوند کړی دی.»

## د والدینو او ټولنو له خوا د ګوزڼ واکسین تطبیق زیاتوالی موندلی

د دې لپاره چې ټولو سیمو ته مو لاسرسی لرل خوندي کړی وي، نو د پولیو د واکسین کارکوونکي په منظم ډول د سیمې له مشرانو او تصمیم نیوونکو سره په اړیکه کې وي. دې پروګرام همداشان د مذهبي کړیو ملاتړ را جلب کړی، کوم چې کولای شي خلکو ته ډاډ ورکړي چې د واکسین تطبیق له اسلامي شریعت سره په ټکر کې نه دی او کولای شي د هغوی نور غلط تعبیرونه ورر اصلاح کاندي.

په دې اړه هیمنت شکلا وایي: «افغانان اوس د ګوزڼ د واکسین په اړه ډېر څه پوهیږي او د دې واکسین د تطبیق په خاطر خپلو اولادونو ته هم اجازه ورکوي. پر ماشومانو باندې د پولیو د واکسین د تطبیق په خاطر د هغوی اجازه اخیستل اوس مهال یوه ډېره وړه ستونزه ده.» تر ټولو لویه پوښتنه دا ده چې واکسین د هغوی ماشومانو ته په خپل لومړني ځای کې تطبیق شي.

*«افغانان اوس د ګوزڼ د واکسین په اړه ډېر څه پوهیږي او د دې واکسین د تطبیق په خاطر خپلو اولادونو ته هم اجازه ورکوي.»*

افغانستان سره له پاکستان او نایجریا د نړۍ یو له هغو درېو هېوادونو څخه دی چیرې چې د پولیو وژونکی ویروس پکې هېڅ پای ته نه دی رسیدلی. په تیرو کلونو کې په افغانستان کې د پولیو د له منځه وړلو هلو ځلو ډېر چټک ګامونه اخیستي دي او اوس مهال دلته د پولیو موارد تر ډېره بریده را ټیټ شوي هم دي.



یوه وروکې ماشومه چې له خپلې کورنۍ سره له پاکستان څخه راستنیږي د تورخم په پوله واکسین تر لاسه کوي. انځور: WHO/ سیني رامو

په ۲۰۱۵ کال کې، په افغانستان کې د ګوزڼ ناروغی ۲۰ پیښې ثبت شوي وې، چې په ۲۰۱۶ کال کې دا شمېره ۱۳ او په ۲۰۱۷ کې بیا ۹ پیښو ته را ټیټه شوې ده. د ګوزڼ ناروغی لېږدیدا په پراخه توګه سره په سویل زون پورې محدوده پاتې ده او یوازې کم شمېر ماشومان د نورو کلونو په پرتله سږ کال د دې ویروس له کبله له فلج سره مخ شوي دي او د ناخوندي ماشومانو شمېر هم مخ په کمېدو روان دی.

په دې اړه هیمنت شکلا زیاته کړه: «د واکسین د پوښښ سیمو د پام وړ زیاتوالی موندلی دی — موږ د هېواد زیاتره سیمې تر پوښښ لاندې لرو، چې یوازې په یو څو متمرکز شویو سیمو کې د لاسرسي لرلو ستونزې لرو.» دا پروګرام په اوس مهال کې د کندهار او ننګرهار پر لوړ خطر لرونکو سیمو او پر کوچېدونکو خلکو باندې متمرکز دی.

*په ۲۰۱۵ کال کې، په افغانستان کې د ګوزڼ ناروغی ۲۰ پیښې ثبت شوي وې، چې په ۲۰۱۶ کال کې دا شمېره ۱۳ او په ۲۰۱۷ کې بیا ۹ پیښو ته را ټیټه شوې ده.*

## د افغانستان – پاکستان د کرښې تر منځ پرتو سیمو ځانګړې اندېښنې رامنځته کړې دي

د افغانستان او پاکستان د کرښې تر منځ پرتې سیمې د تګ راتګ په لاروکې د زیات شمېر خلکو د تلو راتلو له کبله د ځانګړې اندېښنې سبب ګرځیدلې دي.

دغو سیمو ته په ځینو مواردو کې د واکسین د ټیمونو لېږل د جګړو، ناامنیو او لرې والي له کبله ډېر ستونزمن پریوځي. هغه وګړي چې د کوچېدو په حال کې دي هغوی هم زیاتره د واکسین له کمپاینونو څخه بې برخې پاتې کېږي.

روان کال په افغانستان کې د ګوزڼ له ۹ ثبت شویو پیښو څخه زیاتره یې هغه وګړي دي چې د همدې کرښې دواړو غاړو ته د تګ راتګ په حال کې دي. همدا مورد د ننګرهار ولایت د بټي کوټ په ولسوالۍ کې د یوې ۱۵ میاشتنۍ نجلۍ کېسه وه، کومه چې د اکتوبر په میاشت کې یې د ګوزڼ پایله مثبته راووته: دا ماشومه افغانستان ته د راستنه شوي یوې کورنۍ غړې وه کومه چې په پاکستان کې پیښور ښار ته نږدې اوسیده. د اټکل له مخې هره میاشت له پاکستان څخه یو میلیون راستنیدونکي ماشومان په کرښه باندې د څه باندې ۴۰۰ دایمي او ګرځنده ټیمونو له خوا واکسین تر لاسه کوي.

د اکتوبر په ۲۴مه د ګوزڼ د نړیوالې ورځې په مناسبت په افغانستان کې د روغتیا د نړیوالې ادارې (WHO) استازي، ریک پیپرکارن په خپله وینا کې وویل چې، که څه هم د دې ناروغی د له منځه وړلو هدف ته نږدې شوي یو، خو دا وروستي پښه وهل به یې هومره هم اسانه کار نه وي. په افغانستان کې کله هم د ګوزڼ ناروغی له منځه وړلو ته دومره نه و نږدې شوي، خو بیا هم زیات کار ته اړتیا شته چې باید تر سره یې کړو.

*په افغانستان کې د پولیو له منځه وړل هېڅکله دومره نه وو نږدې*

# له بسپنه ورکوونکو سره خبرې اترې: هیون – جین کیم، له سویلي کوریا څخه

*زموږ د بسپنه ورکوونکو لرلید او لومړیتوبونه څه دي؟ په دغه لړۍ کې، OCHA له هغه چا سره خبرې کړې کوم چې په افغانستان کې له بشري مرستو څخه ملاتړ کوي.*



میرمن هیون – جین کیم په افغانستان کې د کوریا د سفارت لومړۍ سکرتره او همداشان د اقتصادي او ټولنیزو پراختیاوو او بشري فعالیتونو مسووله ده. نوموړې د ۲۰۱۶ کال د اګست په نیمایي کې افغانستان ته راغلې ده.

### دافغانستان د وضعیت په اړه ستاسي د حکومت لرلید څه شی ده؟

په داسې حال کې چې په افغانستان کې د ۱۶ کاله مخکني وضعیت په پرتله پرمختګ رامنځته شوی دی، خو بیا لا ډېرو هلو ځلو ته اړتیا ده تر څو ثبات، هوساینه او په ځان بسیاینه منځته راشي. امنیت د ټولو لپاره لویه اندېښنه ده او اقتصادي فرصتونو، د ژوندانه لاروچارو او بنسټیزو خدماتو ته د خلکو د لاسرسي په برخه کې په تیره بیا په جګړه ایزو سیمو کې ننګوونې شته. د کوریا جمهوریت، چې د جګړې له ورانیو او بېوزلۍ څخه پر یوه بسپنه ورکوونکي هېواد باندې برلاسه شوی دی، د افغانستان له خلکو سره ژوره خواخوږي لري او له همدې کبله موږ چمتو یو تر څو خپلې تجربې له هغوی او حکومت سره یې شریکې کړو.

### د کوریا جمهوریت په افغانستان کې څرنګه او چا سره مرسته کوي؟

د کوریا د حکومت مرستې امنیتي، ټولنیزې، اقتصادي پراختیا او بشري مرستو برخې تر پوښښ لاندې لري. زموږ زیاتره پیسې نړیوالو موسسو لکه د ملګرو ملتونو ادارو ته ځي، خو موږ د کوریا د نړیوالو همکاریو د ادارې (KOICA) له لارې هم خپلو دوه اړخیزو پروژو سره مرسته کوو.

### په افغانستان کې ستاسې لومړیتوب لرونکي تمویلي بشري فعالیتونه چیرې دي؟

د کوریا حکومت د بیرته راستنیدونکو او بې ځایه شویو کورنیو، ښځو او ماشومانو په ګډون له زیات زیانمن شویو وګړو سره مرسته کولو ته لومړیتوب ورکوي، چې ځانګړی تمرکز یې د هغوی د روغتیایي خدماتو او پوهنې د برخو پر اصلاح باندې راڅرخي. دا چې په افغانستان کې بشري کړکېچونه په تکرار سره پیښیږي، نو موږ هم هڅه کوو تر څو د بشري او پرمختیایي پروګرامونو په تړون کې اصلاح او د ټولنو اوږدمهاله نرمښت رامنځته کړو. همداشان زموږ موخه دا ده چې د افغان حکومت وړتیاوې جوړې کړو تر څو روان کړکېچ ته په ښه توګه سره ځواب ووایي.

### ستاسې حکومت څرنګه بشري او پرمختیایي بودیجه ځانګړې کوي؟

په افغانستان کې د کوریا د مرستو د جوړښت یوه ګټه دا ده چې موږ دلته د بشري او پرمختیایي پروژو سره د مرستو د ورکړې لپاره یو چاینل لرو او نرمښت منونکي ترتیبات هم پکې شوني دي. په ۲۰۱۷ کال کې، د پرمختیایي او بشري مرستو لپاره زموږ ټوله بودیجه ۳۰ میلیونه امریکایي ډالر و او موږ د هغو نیمایي د بشري مرستو برخې ته ورکړې دي. همداشان موږ د څو کلونو لپاره بشري فعالیتونه تمویلوو تر څو د هغو موسسو لپاره کوم چې زموږ مرستې تر لاسه کوي د هغو لپاره د وړاندوینې او اوږدمهاله پلان جوړونې په برخه کې ښه والی راوستل شي.

### سږ کال، تاسې یو ځل بیا له یوه ځنډ وروسته له CHF – افغانستان سره مرسته وکړه، ولې؟

د کوریا حکومت هڅه کوي تر څو خپلې مرستې په افغانستان کې مېشت مدغم شویو مرستو ته وغځوي او یا هم په نرمي سره پروژې داسې ځانګړې کړي تر څو د بشري مرستو اغیزمنتیا او نرمښتیا ډاډمنه شي. موږ په دې باوري یو چې د CHF – افغانستان مقصد په بشري اړتیاوو کې د زیاتو مهمو تشو ډکول دي او له همدې کبله زه د CHF ستراتیژۍ نه ملاتړ کوم تر څو له کورنیو انجوګانو سره د هغوی د وړتیا په جوړولو باندې زیات کار وکړي او سیمه ایزو ټولنو ته لا ښه لاسرسی ولري.

« زه د CHF ستراتیژۍ نه ملاتړ کوم تر څو له کورنیو انجوګانو سره د هغوی د وړتیا په جوړولو باندې زیات کار وکړي او سیمه ایزو ټولنو ته لا ښه لاسرسی ولري.»

### دبشري او پرمختیایي اقداماتو سره یو ځای کول څومره اهمیت لري؟

زما په اند دا کار د افغانستان په خیر هېواد کې زښته ډېر اهمیت لري. په افغانستان کې بشري کړکېچ تکراریدونکی، اوږدمهاله او پراخېدونکی دی، خو په مقابل کې بشري مرستې او وړتیا ډېره محدوده ده. هر کال موږ د دې شاهدان یو چې کورنۍ د جګړو او وچو موسمونو له کبله بېځایه کیږي. دلته که چیرته پراختیا رامنځته نشي، نو دا کړکېچ به ادامه ولري. موږ یوه ښه طرحه شوې تړاو ته اړتیا لرو – چې ویل یې اسانه خو کول یې ګرانه کار دی. تر اوسه پورې، د کوریا جمهوریت له هغو بشري پروګرامونو سره مرسته کړې کوم چې له پراختیایي فعالیتونو سره تړاو لري، لکه د خوړو په وړاندې د مسلکي مهارتونو تدریس او یا هم د ښځو لپاره د اقتصادي فرصتونو برابرول.

« زموږ مالیه ورکوونکو ته د یوې رسمي مسوولې په توګه، زه په خپله د مرستو هېڅ راز ناوړه ګټه اخیستنه یا فساد نه منم. په ورته وخت کې، موږ مجبور یو تر څو اړمنو خلکو ته لاسرسی ولرو چې دا په خپله په خطر کې د ځینو مرستو اچول دي.»

### د یوه بسپنه ورکوونکي په توګه، د دې لپاره چې اړمنو خلکو ته مو رسیدګي کړې وي، نو ایا یوه «غلطي» به ومنئ؟

زموږ مالیه ورکوونکو ته د یوې رسمي مسوولې په توګه، زه په خپله د مرستو هېڅ راز ناوړه ګټه اخیستنه یا فساد نه منم. په ورته وخت کې، موږ مجبور یو تر څو اړمنو خلکو ته لاسرسی ولرو چې دا په خپله په خطر کې د ځینو مرستو اچول دي. د لاسرسي په وړاندې د خطر د توازن ساتل په خپله یوه ډېره ستونزمنه پوښتنه ده. خو د خطر د راکمولو لپاره، بسپنه ورکوونکي زیات کار کوي تر څو د پروژو څارنه پیاوړې کړي، چې په دې لړ کې د تکنالوژۍ کارول یا هم د بسپنه له ترلاسه کوونو ټولنو سره د شبکې جوړول رامنځته کیږي. که چیرته ټولنې د مرستو په تر لاسه کولو کې ښکېل وګرځول شي، نو هغوی بیا په خپله پوهیږي چې هر څه په پوره اندازه او بشپړه توګه سره تطبیق شوي دي.

### زموږ لوستونکو ته مو وروستی پیغام څه دی؟

زه پرمختګ وینم او د افغانستان د راتلونکي لپاره هیله منه یمه. له کله چې زه په افغانستان کې یمه، ما له زیات شمېر افغانانو سره لیدلي دي، په تیره بیا له ځوان نسل سره، کوم چې ډېر مستعد او د خپلې راتلونکې د جوړونې لپاره ډېر شوق لري. د کوریا حکومت به له افغانانو سره خپلو مرستو ته ادامه ورکړي تر څو یوه غوره راتلونکې ولري.

له افغانستان سره د بشري مرستو د پلان له برخې سره د کوریا شوې مرستې:*

۲۰۱۷: ۱۱ میلیونه ډالر
۲۰۱۶: ۱۹ میلیونه ډالر
۲۰۱۵: ۱۴ میلیونه ډالر
۲۰۱۴: ۱۷ میلیونه ډالر

*د HRP لپاره د FTS له خوا د راپور ورکړل شویو پیسو او د ۲۰۱۶ کال زیاتې بودیجې ته په کتو سره ویلی شو چې د افغانستان لپاره ریښتینې بشري مرستې کېدای شي زیاتوالی ومومي.

# د پلان شویو مرستو بودیجې ته ۶۹ سلنه پیسې را ټولې شوي دي

د نوامبر له اتمې نېټې را وروسته، د OCHA مالي تعقيبي خدماتو د افغانستان لپاره د بشري مرستو صندوق د ۳۴۳٫۷ میلیونه امریکایي ډالرو رپوټ ورکړی و. له دې مقدار پیسو څخه ۲۸۳٫۱ میلیونه امریکایي ډالر د ۲۰۱۷ کال د بشري مرستو د پلان (HRP) لپاره غوښتل شوي وي، چې د کال د نیمايي کتنې د راکمو شویو مقدار ۴۰۹٫۴ میلیونه امریکایي ډالرو ۶۹ سلنه جوړوي.

سږ کال د (HRP) تر ټولو ستر بسپنه ورکوونکی د امریکا متحده ایالات دي چې د یوه چارواکي له قوله دغه مرسته نږدې ۱۱۰ میلیونه امریکایي ډالر دي، چې له هغه وروسته د اروپايي مدني خوندیتوب او بشري عملیاتو (ECHO) دی چې ۳۸ میلیونه امریکایي ډالر مرسته یې کړې او له هغه وروسته د انګلستان ۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو مرسته راځي.

*سږ کال د (HRP) تر ټولو ستر بسپنه ورکوونکی د امریکا متحده ایالات دي چې د یوه چارواکي له قوله دغه مرسته نږدې ۱۱۰ میلیونه امریکایي ډالر دي، چې له هغه وروسته د اروپايي مدني خوندیتوب او بشري عملیاتو (ECHO) دی چې ۳۸ میلیونه امریکایي ډالر مرسته یې کړې او له هغه وروسته د انګلستان ۲۴ میلیونه امریکایي ډالرو مرسته راځي.*

**د HRP له پیسو څخه ۱۹۰ میلیونه امریکایي ډالر څخه د ملګرو ملتونو ادارو ته ورکړل شوي او پاتې ۷۱ میلیونه یې انجوګانو ته ورکړل شوي دي**

د HRP له سږ کال پیسو څخه، څه کم ۷۲ میلیونه امریکایي ډالر یې د انجوګانو پروژو ته ورکړل شوي او ۱۹۰ میلیونه امریکایي ډالر د ملګرو ملتونو د ادارو پروژو او پروګرامونو ته ځانګړې شوي دي، چې په دې پسې ۴۶ میلیونه امریکایي ډالر UNHCR او ۱۸٫۵ میلیونه امریکایي ډالر یې IOM ته ورکړل شوي دي.

له همدې پیسو څخه یوازې ۴۰ میلیونه امریکایي ډالر د افغانستان ګډ بشري وجهي صندوق ته د بشري مرستو د همغږي کوونکي، ټوبي لانزر تر مشرۍ لاندې ورغلي دي. سږ کال، له همدې وجهي صندوق څخه نږدې ۲۰ میلیونه امریکایي ډالر نړیوالو انجوګانو او ۸ میلیونه امریکایي دالر داخلي انجوګانو ته ورکړل شوي دي. د GMS سوداګریزو معلوماتو له مخې د ملګرو ملتونو ادارو ټولټال ۱۵ میلیونه امریکایي ډالر تر لاسه کړي دي *(باکس ووینئ)*.

**د GSM سوداګریز معلومات د CHF-** افغانستان څخه ریښتینې ارقام وړاندې کوي، کوم چې د بسپنه ورکوونکو او ونډه لرونکو لپاره د روانو بهیرونو په اړه یو موثې ګټور تجزیه اوتحلیل وړاندې کوي. په دې اړه ټول معلومات په لاندې لینک کې موندلای شئ: http://gms.unocha.org/bi.

**CHF- افغانستان شپږ ملیونه امریکایي ډالر HC ته په اختیار کې ورکړي**

*سږ کال، له همدې وجهي صندوق څخه نږدې ۲۰ میلیونه امریکایي ډالر نړیوالو انجوګانو او ۸ میلیونه امریکایي دالر داخلي انجوګانو ته ورکړل شوي دي.*

د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر په میاشت کې د دویم معیاري اختصاص ۲۰ میلیونه ډالرو په پای ته رسیدلو سره، شاوخوا ۶ میلیونه امریکایي ډالر د CHF – افغانستان په خزانه کې پاتې شوي، تر څو له هغو څخه HC د اړتیا په صورت کې ګټه واخلي.

سږ کال، HC د افغانستان لپاره د CHF صندوق فعال کړ او د ډنمارک د کډوالو د شورا- د ډنمارک د ماین پاکولو د ګروپ (DRC-DDG) انجو سره د ملاتړ لپاره ۱۱۵۰۰۰ امریکایي ډالر تصویب کړل تر څو له پاکستان څخه د راستنیدونکو کډوالو لپاره د ماین د خطرونو په اړه د زده کړې د دوام جدي مالي تشه پرې ډکه کړي، نږدې ۵۰۰۰۰ امریکایي ډالر یې د هرات په حوزوي روغتون کې د ډېر یات اړین ترياژ سیمې لپاره ځانګړې کړي او ۲٫۵ میلیونه امریکایي ډالرو په اړه یې د یونیسیف لپاره خبرې کړې دي تر څو د CHF- افغانستان هغو همکارانو ته کوم چې د شدیدې حادې خوارځواکۍ (SAM) ماشومانو سره کار کوي، هغوی ته یې د درماني خوړو د مرستې لپاره ورکړي.

د (FTS) ټیم د افغانستان له (OCHA) سره خپل کار ته دوام ورکړی دی تر څو د نامشخص شویو ۱۴۳ میلیونه امریکایي ډالرو پیسې یا د (HRP) د بودیجې ۴۰ سلنه د خپلو کلسټرونو لپاره تر لاسه کړي. د (FTS) موخه دا ده تر څو د ټولو نړیوالو بشرپاله مرستو د جریانونو یو بشپړ انځور وړاندې کړي. دغه سیستم لویې معاملې ته د بسپنه ورکوونکو، د ملګرو ملتونو د ادارو او تطبیق کوونکو همکارانو پر ژمنو باندې ولاړ دی، چې په افغانستان کې د همکارانو ته د ځانګړې شویو پیسو په اړه د ښه روڼتوب، پرله پسې والي او په جینیوا کې FTS ته د بشپړ او په خپل وخت سره رپوټ ورکولو پورې اړه لري.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره:
ډومینیک پارکر، د افغانستان د **OCHA** د دفتر مشر، parker@un.org
فیلیپ کروف، په افغانستان کې د OCHA د عامه اطلاعاتو امر، ۰۷۹۳۰۰۱۱۱۰، kropf@un.org

د همدې رپوټ ژباړې په ***https://goo.gl/66WWZj***کې د لاسرسي وړ دي یا هم دا کوډ سکن کړئ:

د لا زیاتو معلوماتو لپاره: www.reliefweb.int | www.unocha.org
https://twitter.com/OCHAAfg https://www.facebook.com/UNOCHAAfghanistan